Independent Election Commission

UNDP
Empowered lives.
Resilient nations.

# د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام (UNDP) او د جاپان هیواد ترمنځ همکاري په افغانستان کې ډیموکراسي غښتلې کوي

### د جاپان د دولت لخوا د رأیه پانو او نورو ټاکنیزو توکو د چمتو کولو لپاره ۱۶,۷ میلیونه امریکایي ډالره مرسته

**کابل، ۱۳۹۲/۰۸/۲۱** – نن د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په مرکزي دفتر کې، د جاپان هیواد د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) سره د ۱۶,۷ میلیونه ډالرو د هوکړه لیک په لاسلیک کولو سره د آزادو، شفافه او باوري ټاکنو او د پیاوړي ډیموکراسی څخه په ملاتړ کې د افغانستان د ټاکنو له خپلواک کمیسیون سره بلاعوضه نغدي مرسته وکړه.

د جاپان هیواد سفیر محترم هیروشي تکاهاشي او د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د عمومي رئیس ښاغلي الوارو رودریګز ترمنځ یاددښتونه د یوې غونډې په ترڅ کې په داسي حال کې سره تبادله شول چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون رئیس جلالتمآب یوسف نورستانی او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دارالانشاء رئیس ښاغلی ضیاءالحق امرخیل هم پکې ګډون درلود.

د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام، د ایلیکټ پروژې (ELECT II)، لپاره د جاپان هیواد وروستي مرستې به د رأیه اچونې د توکو، لکه رأیه پاڼې، نه لیږې کېدونکی رنګ او د رأیه اچونې د محلونو بستو، او په ټول هیواد کې د څمکې له لارې د رأیه اچونې د توکو د لیږد او د ټاکنو د توکو د رانیولو لپاره په نړیواله کچه د موادو د انتقال د لګښتونو دپاره کارول کیږي. دغه مرستې د جاپان د هیواد لخوا د وړاندې شوو پخوانیو مرستو یوه لړۍ ده چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د پیاوړي کولو په برخه کې یې تر اوسه کړیده.

د هوکړه لیک د لاسلیک په مراسمو کې د وینا پر مهال جلالتمآب نورستاني وویل چې ”د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون د جاپان د هیواد لخوا د ۱۳۹۳ل کال د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو د ټاکنو د ترسره کولو په موخه په پرله پسې توګه د چمتو کړای شوې مرستو هرکلی کوي.“ ”د جاپان هېواد لخوا د ۱۶,۷ میلیونه ډالرو مرسته په داسي حال کې کیږي چې نوموړي هېواد په ۱۳۸۹ او ۱۳۹۰ کلونو کې د ټاکنیزومرستو په ترڅ کې ۸۱,۷ میلیونو ډالرومرسته کړې وه. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د افغانانو تر رهبری لاندې د باوري او شفافه ټاکنو ترسره کولو ته ژمن دی. او د جاپان د هیواد لخوا دغه مرستې به په دغه برخه کې یو ډیر مهم رول ولوبوي.

د جاپان سفیر محترم هیروشي تکاهاشي وویل چې د جاپان هېواد له ۱۳۸۳ ل کال راهیسې په افغانستان کې د ټاکنو له بهیر سره مرستې کړې دي. ”دا ټاکنې د افغانستان په سیاسي لیږد کې خورا اهمیت لري. جاپان هیله لري چې دا ونده به د پیاوړي ټاکنو په ترسره کولو او د ټاکنو خپلواک کمیسیون سره به د نوموړي کمیسیون پراخه ډیموکراتیک (ولسي ګډون) ته په وده ورکولو او د عامه باور د زیاتولو د خپل هدف په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي.

د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام عمومي رئیس ښاغلي الوارو رودریګز وویل چې ”د جاپان او افغانستان هېوادونو ترمنځ دغه تازه ملګرتوب په افغانستان کې دیموکراتیکي حکومتدارۍ د پیاوړتیا په هکله د افغانستان د دولت او د نړیوالې ټولنې د ټینګ هوډ ښکارندوی دی“. ”د جاپان هېواد مرسته به د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د هڅو په پیاوړي کولو کېستره ونډه ولري تر څو د ټاکنو خپلواک کمیسیون سره د هغو ټاکنیزو پروسو په برخه کې مرسته وکړي چې د خلکو باور ته وده ورکړي.

**د اړیکو نیولو معلومات:**

د لازیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړی په لاندیني ادرسونو اړیکه ټینګه کړی:

د اطلاعاتو او بهرنیو اړیکو ریاست: infor@iec.org.af 0798355355
وسیمه محمدی، د پروګرام د برخې مسؤله، په افغانستان کې د جاپان سفارت. د موبایل شمېره: 796 341200 (0) 93+
سید فرهاد زلمی، د ارتباطاتو واحد، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام، افغانستان. د موبایل شمېره: 790509133 (0) 93+